## 17. پیاز (*Allium cepa* L.)





**17.1 پېژندګلوي**

پیاز د Amaryllidaceae د کورنۍ پورې اړه لري، هغه کورنۍ چه په کومې پورې چه اوږه، ګندنه او chives تعلق لري. د پیازو هوایی پاڼې اوږدې، استوانه یی او خالي منځي وي چه د Allium depa یوه خاصه مشخصه ده. په پیاز کې حقیقي ساقه لنډه شوې وي. د ځمکې د پاسه غوټۍ جوړښت یوه کاذبه ساقه ده چه د پاڼو د پوښونو د تجمع پواسطه جوړه شوې وي. پیاز یو د هغو سبزیجاتو څخه دي چه مختلفو شرایطو سره توافق کوي. په استوایی او sub-arctic سیمو کې کرل کیږي. دا توافق اساساً د ورځې د اوږدوالي په مقابل کې د نبات د بیلابیلو ځوابونو په وجه رامنځ ته کیږي.

د پیازو غوټې د فاسفورس، کلسیم او کاربوهایدریت څخه غني وي. د پیازو تیز خوند او بوی د یو ډول مفر تیلو په وجه وی چه د allyl-propyl disulfide پنامه یادیږي.

په مشرقي کې تر ټولو مهمې ساحې چه پیاز پکې کرل کیږي، سرخرود، کامه، رودات ولسوالیاني دي او همدارنګه په خاص کنړ، شیګل او اسدآباد کی کرل کیږي.

17.2 نوعې

د عرض البلد په وجه، د لنډو ورځو ډولونه د کښت لپاره توصیه کیږي. د پیازو مهم ډولونه چه په مشرقي کې کرل کیږي دادي: Mazina Red, Super Swat, Swat -1, Super stone, Red Creole, Red crown (H), Red coral (H) and Yellow Spanish Grano. 17.1جدول ددې نوعو خصوصیات توضیح کوي

17.3 د تولیدوني جریان

17.3.1 اقلیم

پیاز د یخ موسم فصل دي. د تنبتي ودې لپاره 13-24 $^{o}C$ مساعده تودوخه ده او 16-21 $^{o}C$ د پیازو د تشکیل لپاره ښه درجه ده. د پیازو مختلفي نوعې د ورځو د اوږدوالي په نسبت مختلفي اړتیاوې لري. په همدې دلیل یواځې هغه ډولونه چه د مختلفو اقلیمونو سره یی توافق حاصل کړې وي، باید وکرل شی. په مشرقی کې لوړه تودوخه او دوامداره رڼا د غوټې د تشکیل لپاره ضروري وي.

پیاز دوه کلن وي. په لمړي کال غوټې کوي چه یوه غذایی منبع ده او په بل کال کې نبات ګل کوي. د ګل ډنډرونه به لمړي کال کې د مناسبو چاپیریالي شرایطو لاندې او که نبات په کافي اندازه غټ شوې وي، تشکیلیدې شي. د ودې د موسم په وروستنی برخه کې (مارچ او اپریل) سره هوا د تخم د ډنډرونو فیصدي ډیروي.

17.1جدول ددي نوعو خصوصيات توضيح کوي

| ډول | شكل | وزن په ګرام | جسامت | د پوستکي رنګ | ذخيره | د Basal rot په مقابل کي مقاوخت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| Mazina Red | ژور کروي | 300 | متوسط | توربخن نسواري | اوږده موده | متوسط |
| Swat -1 | ژور کروي | 300-350 | متوسط | توربخن نسواري | اوږده موده | متوسط |
| Yellow Spanish | کروي | 350-400 | غټ | نسواري ژيړ | لنډه موده | حساس |

17.3.2 ځمکه
پياز په مختلفو ځمکو باندې کرل کيدې شي. شګلنه او يا ميده خاوره ترټولو ښه ده. په ترجيحی توګه ځمکه بايد زيات عضوي مواد ولري. ښه تخليه ولري او ماتيدونکي وي. پياز د لوړ تيزابيت په مقابل کي حساس دي او د لوړو حاصلاتو لپاره ښه او مناسب pH د 5.8-6.5 پورې دي.

**17.3.3 حيواني او کيمياوي سري**
د پيازو يو ټن د ځمکی څخه 0.5 kg 0f N, 1.4 kg P, and 4.33 kg of K لرې کوي. لکه څنګه چه پياز د ريښو يو محدود سيستم لري، په تقريباً هر ډول ځمکه باندی د سرو په مقابل کی ښه ځواب وايي. سرو ته ضرورت د ځمکي د ډول، د مخکينی سرى تطبيق، او د توليد د هدفونو په اساس فرق کوي. په يو جريب باندی د ۵-۸ ټنو FYM، 20 kg N, 17 kg $P_2O_5$ and 12 kg $K_2O$ استعمال د يو غوټه لرونکي فصل د ودی لپاره کفايت کوي. برسيره پر دی، د Zinc Sulfate او يا Ferrous Sulfate شپږ کيلو په يو جريب باندې بايد تطبيق شي.

پياز د اضافی سرى د تطبيق په مقابل کی ښه ځواب ورکوي. په منظمو وقفو سره بايد د سرى کوچني مقدارونه علاوه شي (دوه يا درى اونی بعد) تر څو هغه مقدار ډير کړي چه د نبات پواسطه اخيستل کيږي او هغه مقدار کم کړي چه د ځمکي څخه مينځل کيږي يعنی لرى کيږي. په يو جريب باندی هيڅکله په يو وخت کی د ۶-۷ کيلو څخه زيات نايتروجن مه تطبيقوئ. د حاصل د ټولولو څخه څلور اونی مخکی د سرى تطبيق بند کړئ (کله يی چه غاړه نرمه احساس شي). هميشه د سرى د تطبيق څخه وروسته اوبه ورکړئ.

17.3.4 د تخم اندازه
په يو جريب باندی د تخم پنځه کيلو استعماليږي او کله ۶-۸ اونيو پورى پرې تيرې شي، په مناسبو فاصلو سره رنګړي کيږي.

د بوزغليو د توليد لپاره، تخم د يو جريب په سر 1.6-2 kg کرل کيږي. کله چه غوټې کرل کيږي، نو په يو جريب باندی 200-240 kg ته ضرورت دی. دا په قطارونو کی په ۱۵ سانتي فاصلو سره کرل کيږي چه د قطارونو تر منځ يی فاصله ۴۵ سانتي وي.

### 17.3.5 د کرلو وختونه
هغه پیاز چه د ژمی په موسم کی کرل کیږي، تخم یی د سپتمبر نه تر نیمایی اکتوبر پوری باید وکرل شي. بوزغلی یی باید د نومبر په نیمایی او دسمبر کی انتقال شي کله چه ۸-۱۰ اونیو پوری عمر ولري. په می یا جون کی د حاصل لپاره فصل آماده وي. په تپه زاره او سړو منطقو کی، تخم د مارچ څخه تر جون پورې کرل کیږي.

### 17.3.6 د بوزغلیو کرل

**17.1 شکل: پیاز چه دوه قطاره په پوله کرل شوي**
*Source: Roots of Peace, Jalalabad*

پټي څو ځلی قلبه کیږي تر څو ښه واړول شيږ. بزګران بیا څیرې او پولی پکی جوړوي. ځینې ډولونه یی کیدی شي چه په جنورې کی او یا د فبروري په لمړی برخه وکرل شي. کله چه پاخه شی نو د جسامت له نظره کوچني وي. د وختی ډولونو بوزغلې باید د نومبر د آخر څخه دمخه وکرل شي. که ناوخته وکرل شي، کیدی شي چه کم حاصلات ولري او کوچنی غوټې ولری ځکه چه دوی د لنډو ورځو په مقابل کی حساسیت ښيي. په هغه ځمکه چه بوزغلی کرل کیږي باید مخکی تر دریو کالو پوری پکې پیاز او یا د Allium د کورنی نور غړي نه وي کرل شوي.

### 17.3.7 فاصلې ورکول
د نباتاتو شمیر ډیرول د نباتاتو د غوټو د ډیروالي سبب ګرځي خو د هرې غوټې غټوالی او وزن کمیږي. لکه څنګه چه د ډیرو فاصلو په وجه د غوټې اندازه او وزن ډیریږي، د نژدې فاصلو سره مجموعي حاصلات لوړیږي.
فاصلې د قطارونو تر منځ د ۲۰-۳۰ سانتي پوری او د بوټو تر منځ د ۱۰-۱۵ سانتي پورې فرق کوي.

### 17.3.8 اوبه ورکول
د پیازو د اوبو استعمال د ودې د موسم په جریان کی او د هوا د حالاتو په اساس توپیر کوي. اوبو ته د پیازو تر ټولو لوړ ضرورت په اونی کی 5 cm – 3.5 وي. دا لوړ ضرورت خاصتاً هله پیښنږي چه د غوټې د غټیدو وروستنی مرحلې وي او یا هوا ګرمه وي. د اوبو ورکولو صحیح وخت مهم دي. دا چه تصمیم ونیسو چه کله فصل ته اوبه ورکړو او څومره اوبه ورکړو، د خاوری او د ځمکې لاندی خصوصیاتو، د هوا اوسني حالاتو، او د فصل دعمر پوری اړه لري.

د بوزغلیو د کرلو په وخت کی اوبو ورکولو ته ضرورت دې او بیا هر ۷-۸ ورځې وروسته. ډیره مهمه او بحراني مرحله د غوټې تشکیل دې او باید په دی وخت کی د رطوبت فشار موجود نه وي او که نه نو حاصلات به په نابېره توګه راښکته شي. د ګرمې هوا په جریان کی په اونۍ کی دوه یا دری ځلې اوبه ورکړئ. په اوسط ډول ددی لپاره چه د ښه کیفیت لرونکي حاصلات ورکړي، کرونکي باید د بوزغلیو د کښت څخه تر حاصل ټولولو پورې ۱۸-۲۰ ځلو پوری اوبه ورکړي. که چیری د وچې مرحلی پسې اوبه ورکړل شي، باعث ددی کیږي چه د پیازو د غوټو خارجي طبقې درز وکړي. د نورو نباتاتو په خلاف پیاز د رطوبت د فشار په وخت کی نه مړاوي کیږي. لکه څنګه چه د رطوبت فشار د سترګو پواسطه په مشکله لیدل کیږي نو بهتره ده چه د خاورې رطوبت وکتل شي. اوبه ورکول هغه وخت بندیږي چه سرونه یی پاخه شی او په غوړځیدلو پیل وکړي.

### 17.3.9 د زیان رسوونکو بوټو کنترول
د لاس پواسطه خیشاوه کول په موثره ډول د زیان رسوونکو بوټو اکثره ډولونه کنترولوي او د فصل، کارکوونکو او چاپیریال لپاره بې خطره وي. دا خیشاوه هغه وخت کی تر سره کوئ چه هم فصل او هم زیان رسوونکی بوټی کوچني او لنډ وی تر څو فصل ته ډیر ضرر ونه رسیږي او هم د میخانیکی وسایلو لکه د رمبی کارول آسانه شي. د غټو بوټو وښکل چه پراخه ریشې ولري، د فصل د تخریب سبب کیدی شی. که څه هم د لاس پواسطه خیشاوه موثره وي خو کیدی شی چه قیمته تمامه شی او کار او زحمت ډیر وغواړي. پټې باید خاصتاً د نبات د ودې په

لمړنی مرحله کی د زیان رسوونکو بوټو څخه پاک وساتل شي ځکه چی دا بوټي د فصل سره د غذایی موادو په اخیستو کی رقابت کوی او کیدی شی چه حاصلات دفعتاً راښکته کړي. که فاصلې د نباتاتو ترمنځ کمی وي او ریشی سطحي وي او فصل په خپله بشپړه تنبتي وده کی وي، نو خیشاوه کول مشکل او قیمته تماميږي. داسې توصیه کیږي د زیان رسوونکو په ضد د کیمیاوی دوا او خیشاوې دواړو څخه په مهمه مرحله د فصل کی کار واخیستل شي. Fluchloralin او یا Oxyfluorfen په لسو لیترو اوبو کی ۱۵ ملی لیتره حل او د بوزغلیو د کرلو څخه دری ورځی وروسته یی تطبیق کړئ او بیا ۴۵ ورځی وروسته یی د لاسی خیشاوې پواسطه تعقیب کړئ. پدی ترتیب په موثر ډول د زیان رسوونکو بوټو نفوس کنترولیږي. په متبادل ډول کولای شو چه د Pendimethalin څخه (فی جریب ۰,۷ لیتره) د بوزغلیو د کرلو څخه سمدلاسه او بیا د لمړی ځل اوبه کولو څخه د مخه تطبیق کړو او هم خیشاوه ترسره کړو. دا ښه نتیجه ورکوي.

17.3.10 حاصلات

دوه رګه ډول یی په یو هکتار ځمکه باندی ۲۰-۲۵ ټنو پوری حاصلات ورکوی او نور ډولونه یی ۱۵-۲۰ ټنو پوری.

## 17.4 د فصل ساتنه

### 17.4.1 مضره حشرات

#### Onion Thrips (*Thrips tabaci*) 17.4.1.1



**Figure 17.1: Onion Thrips**
*Source: UC Statewide IPM Project ©2001 Regents, University of California*

دا حشرات په پیازو کی تر ټولو مهم مضر حشرات دي. کاهلان یا غټان یی ژیړ بخن او یا ژیړبخن نصواری رنګ او نری وزرونه لري. د پاڼي په نسجونو کی هګی غونچه غونچه اچول کیږي. د پاڼي د پوښونو او ساقي تر منځ زیات شمیر حشرات لیدل کیږي چه د پاڼو د اپیدرم طبقه تخریشوی او د شیره یی تر زبیښي. اخته شوی پاڼي نقره یی خاپونه ښیی چه وروسته نصواری رنګ ځان ته اختیاروي. پاڼي د څوکو څخه لاندی خوا ته انحراف پیدا کوي او نبات بالاخره مړاوې کیږي او وژل کیږي. تیغی هم شدیدو حملو له امله له منځه ځي او نبات وده ورو کیږي. د غوټو غټوالی او اندازه او همدارنګه د هغوی حاصلات ددی حشراتو پواسطه متاثره کیږی.

**کنترول:** د Phorate یا Carbofuran granules (200 g a.i./jerib) توصیه کیږي. په متبادل ډول د 0.07% Endosulphan (2ml/liter of water), 0.07% Nuvacron (2ml/liter of water), or 0.01% Cypermethrin (1ml/liter of water) سپری کول د یو نښلوونکی یا سریښناکه مادې سره یوځای ( Triton، Sandovit) هر دوه هفتی وروسته دا حشرات کنترولولای شي.

#### Onion Maggot (*Hylemia antiqua*) 17.4.1.2



**17 شکل: د پیازو د Maggots حشرات**
*Source: UC Statewide IPM Project, ©2001 Regents, University of California*

دد حشراتو کاهل شکل د کورني مچانو په شان ښکاري. دا مچان په زړو پاڼو باندی هګی اچوي او یایی په ځمکه کی اچوي او لاروایی ځمکی ته داخلیږي او د پیازو د غوټي د disc برخه تخریبوي. اخته شوی نباتات ژیړبخن نصواري رنګ نیسي او بالاخره وچیږي. اخته شوې غوټي په ذخیره کی ورستیږي.

**کنترول:** په فصلونو کی باید په منظم ډول دوران قایم شي او مخکی لدینه چه په ځمکه کی بوزغلي وکرل شی باید **Thimet** ورعلاوه شي.

### 17.4.2 **ناروغۍ**

#### 17.4.2.1 <u>Damping-off یا</u>

**(*Fusarium oxysporum* f.sp.*cepae*; *Pythium* sp.; *Sclerotium rolfsii* and *S.cepivorum* and *Colletotrichum* sp.)**

په ژمی کی ډیر عمومیت لري او د پیاز د تخریباتو د ټولو علتونو ۶۰-۷۵٪ تشکیلوي. د ځمکی لوړ رطوبی، معتدله هوا او د هوا لوړ رطوبت خصوصاً په بارانی موسم کی ددی ناروغی د پیدا کیدو سبب ګرځي. دوه ډوله علامی لیدل کیږي.

*Pre-emergence damping-off*:تخم او تیغی مخکی لدینه چه راشني شي خوسا کیږي

*Post-emergence damping-off*:حشرات د تیغو د غاړی برخه د ځمکي د سطحی د پاسه تر حملي لاندې راولي. چه همدا برخه ورستیږي او بالاخره تیغی سقوط کوي او مړې کیږي.

**کنترول:د کرلو لپاره باید صحتمند تخم انتخاب شي. تخم باید د** Thiram پواسطه د 2g/Kg په اندازه د کرلو څخه د مخه تداوي شي. قوریې باید هر کال په عین ځمکه کی نه وي. د قوریې پورتني برخه باید د Thiram @ 5g/m$^2$ پواسطه تداوي شي او قوریه باید د عین موادو پواسطه هر دوه هفتې بعد د 2g/liter په اندازه خیشتې شي. د ځمکی د قطبی کیدو څخه د polythene د پوښ پواسطه چه د ۳۰ ورځو لپاره مخکی د کښت څخه په بستر باندی هواریږي. د بیولوجیکي کنترول لپاره د *Trichoderma viride* @ 0.24 Kg تطبیق په یو جریب باندی هم ددی حشراتو په کنترول کی موثره وي.

#### 17.4.2.2 <u>Purple Blotch</u> (*Alternaria porri*)

**دا مهمه مریضی د پیازو په ټولو ساحو کی عمومیت لري. ګرم او مرطوب اقلیم چه د حرارت درجه د** 21-30°C وی او نسبی رطوبت ۸۰-۹۰ فیصده وي ددی ناروغۍ پیدا کیدو ته زمینه برابروي. دا د منی په موسم کی ډیر عمومیت لري. علامی یی په پاڼو او د ګلانو په ډنډرونو څرګندیږي چه کوچني ننوتی او سپین بخن خاپی وی او ارغوانی رنګه مرکزونه لري. دا آفتونه شاید پاڼي یا ډنډرونه احاطه کړی او بالاخره یی راوغورځوي. اخته شوی نباتات د غوټو په نیولو کی پاتې راځي. ددی ناروغۍ شدت نظر موسم ته فرق کوي.

**کنترول:** د صحتمندو تخمونو استعمال، د فصل دوه یا دری کلن دوران د غیر مربوطه فصلونو سره دا ناروغۍ کنترولولای شي. د Mancozeb (025%), %) Antracol, Allet, Copper Oxychloride, Chlorothalonil (0.2%) or Iprodione 0.25%) سپری کول د بوزغلیو د کرلو څخه یوه میاشت وروسته او بیا هر دوه اونی بعد ددی ناروغۍ واقع کیدل کمولای شي. دا تولیدات باید د سپرې په شکل د triton/sandovit سره مخلوط شي.



**17.4 شکل: د Purple Blotch د ناروغۍ علامی د پیازو په پاڼو باندې**

*Source: UC Statewide IPM Project, ©2001 Regents, University of California*

**17.4.2.3 Downy Mildew (*Perenospora destructor*)**

دا ناروغي هغه وخت شدیده وی چه شرایط مرطوب وي او فصل ناوخته وکرل شي. د ډیرې سرې تطبیق او ډیرې اوبه ورکول دا ناروغی شدیده کولای شي. د پاڼې په سطحه باندې یو نرمه کتله پیدا کیږي او هم کیدی شي چه د ګلانو په ډنډرونو باندې پیدا شي. د فنګس وده په بنفش رنګ سره چه وروسته شین بخن ژیړ رنګ اختیاروي او بالاخره پاڼې یا د تخم ډنډرونه ولیږي.

**کنترول:** ددی لپاره چه دا ناروغی په موثره توګه کنترول شي، نو هغه غوټې چه د تخم لپاره ساتل کیږي باید لمر ته د ۱۲ ورځو لپاره پریښودل کیږي تر څو فنګسونه یی له منځه ولاړ شي. د Zineb (0.2%), Karathane (0.1%), Tridemorph (0.1%), Dithan M-45 پواسطه سپری کول هم دا ناروغی ښه کنترولولای شي.



**17.5 شکل: د پیازو په پاڼه د Downy Mildew ناروغی**

*Source: UC Statewide IPM Project,©2000 Regents, University of California*

**17.4.2.4** Neck rot (*Botrytis allii*)

دا ناروغی معمولاً په پټیو کی واقع کیږي خو علامی یی د ذخیری په دوران کی څرګندیږي. په مرطوبو حالاتو کی د حاصل د ټولولو څخه سمدلاسه د مخه او د حاصل د ټولولو په دوران کی یی شدت ډیر وي او بل هغه وخت چه پیاز په ځمکو کی تداوي کیږي. ډیر نایتروجن او اوبه ددی مرض چانس ډیروي. دا ناروغي په ملایمو پیازو کی ډیره شدیده وي نظر تیز او تند پیاز ته. دا فنګس د قشرونو د نرمیدلو سبب ګرځي چه داسی ښکاری لکه چه په اوبو کی خیشتې شوې وي. په مرطوب شرایطو کی د قشرونو په سطح باندی یو خړبخن فنګسي افت پیدا کیږي.



**Figure 17.6: Botrytis neck rot and gray spore production**

*Source: Unknown*

**کنترول:** ددې ناروغی د موثر کنترول لپاره، پیاز باید د دوه ورځو لپاره پریښودل شي چه وچ شي. دا غوټی بیا باید په شیورس د ۱۰-۱۵ ورځو پوری وچې شي، مخکی د ذخیری نه. پام باید وشي چه د ټولو شوو حاصلاتو په اداره کولو کی د ژوبلو څخه مخه ونیول شي. فصلونه باید د حاصل د ټولولو څخه ۱۰-۱۵ ورځی د مخه د Carbendazim (0.2%) پواسطه سپرې شي.

**17.4.2.6** Bacterial Soft Rot (*Erwinia carotovora* PV. *Carotovora*)

دا په ډیرو سبزیجاتو کی د ذخیری په دوران کی یو عمومي مشکل دی. معمولاً په پیازو باندی د درنو بارانونو څخه وروسته پیدا کیږي او یا د ککړو اوبو پواسطه د اوبو ورکولو څخه وروسته. دا معمولاً په پخو پیازو باندی پیدا کیږي چه شرایط ګرام او مرطوب وي (20-29.5 °C).



**17.7 شکل: د پیازو په غوټو او پاڼو د soft rot علامې**

*Source: unknon*

کنټرول: د تثبیت شوی مسو د تولیداتو تطبیق کیدای شي چه قسماً د ناروغی د سرایت په کمولو کی موثریت ولري. لکه د نورو ناروغیو په شان، د پخو پیازو راټولول، په انتقال کی پام کول، او په یخ او سړو ځآیونو کی یی ذخیره کول په کنترول کی کمک کوي.

### 17.4.3 فزیولوجیکی بی نظمی ګانی

پیاز کیدی شی چه داسی مشکلات پیدا کړي چه د حشراتو یا ناروغیو او یا د غذایی موادو د کمبود یا ډیربښت پوری مربوط نه وي. شنه کیدل یو ددی مشکلاتو څخه دی. دا هغه وخت واقع کیږي چه د پیازو غوټه د لمر رڼا ته د ډیر وخت لپاره ښکاره شي. په وختی ډول د سری تطبیق ته ضرورت دي تر څو د نبات پورتنی برخه قوی کړي چه د لمر په وخت کی په غوټو سیوری وکړي. په ناوخته ډول د سرې تطبیق د پخیدو د ځنډیدلو سبب ګرځي او د شنه کیدو احتمال زیاتوي.

هغه پیاز چه د ډیر وخت لپاره لمر ته ښکاره وي په هغو د لمر سوځیدنه لیدل کیږي. کله چه د پیازو غوټه پخیدلو ته ورسیږي او د حاصل ټولول وځنډیږي نو دا حالت پکې واقع کیدی شي. د پخیدو څخه ژر تر ژره وروسته باید حاصل راټول شي. پوستکی یا پردی یی څو طبقی ژوری وچیږي او نصواري رنګ اختیاروي. د شدیدو شرایطو لاندی، داخلی انساج په حقیقت کی پخیږي او یا نرم او شفاف حالت نیسي.

شفافی پردی یو فزیولوجیکی بی نظمی ده چه د یخ یا سړو دزخم سره په ظاهری بڼه کی شباهت لري. سبب یی نامعلوم دی، خو ځینی حالات ورته زمینه مساعدوي. د ودی په آخرنیو اونیو کی لوړ حرارت، او بیا د حاصل د ټولولو او ذخیری ترمنځ د دوو نه تر څلورو اونیو پوری ځنډ راتلل ددی حالت پیدا کیدو ته زمینه مساعدوي. ددی دواړو حالتونو تفریقی تشخیص مشکل وي (د یخ ژوبلی او شفافي پردی). غټ توپیر پکی دادې چه د یخ ژوبلی بهرنی قشرونه متاثره کوي او حال داچه دا حالت ژورو پردو کی واقع کیږي.

د پاڼو د فزیکی تخریب ځینی ډولونه د Botrytis leaf blight سره مغالطه کیږي. دا معمولاً هغه وخت واقع کیږي چه د باد پواسطه رټلی یا شړه انتقال شي. قوی بادونه د پاڼو د داغونو سبب ګرځي خصوصاً په هغو ځمکو کی چه وچی شګلنې خاورې ولري. د رټلیو تخریب ډیر شدید وي چه نسبتاً غټ (0.32-0.63 cm) سپین او ژیړ تخریبات په پاڼو لیدل کیږي. ښکاره غوټی داسی احساسیږی چه ننوتې ساحې پکی موجودې وي. په شدیدو حالاتو کی د فصل څخه پاڼې ولیږي.

خراب اقلیمی شرایط او د غذایی موادو عدم توازن د پیازو د غوټو د چاودیدو او دوه ګوني کیدو باعث کیږي. د رمبی وهلو او یا خیشاوې په وخت کی میخانیکی ژوبلی د نوی ودې باعث کیږي او دا هم د چاودیدو او دوه ګوني کیدو باعث کیږي.

کله نا کله د پیازو بوټې یو لیکه لرونکی بڼه غوره کوي. که دا ستونزه عامه وي، نو کیدی شی چه د سلفز کمبو دی یی یوه احتمالی وجه وي. که چیری دا حالت په یو جدا نبات کی واقع کیږي، نو دا chimera دې. Chimera هله پیدا کیږي چه په meristematic (د ودی موقعیت) انساجو کی یو میوټیشن واقع شي. دا باید د تشویش وړ خبره نه وي.

## 17.5 د حاصل ټولول او د ټول شوو حاصلاتو اداره کول

### 17.5.1 د حاصل ټولول

**17.8 شکل: په ځمکه کی د پیازو غوټي مخکي د تداوي نه**
*Source: Roots of Peace*



د حاصل د پخیدو درجه په دی پوری اړه لري چه د کوم مقصد لپاره استعماليږي. که د غونچه کیدو لپاره یی استعمالوو نو د پنسل په اندازه راټولیدی شي. د ځمکی څخه راوښکل کیږي، مینځل کیږي او بیا غونچه کیږي او بازار ته استول کیږي.

هغه پیاز چه د ذخیرې لپاره استعماليږي باید هغه وخت راټول شي چه ۵۰-۸۰ فیصده پورتنی برخي یی رالویدلي وي او غوټی یی پخي وی او غاړه یی نرئ وي. هغه وخت حاصلات ډیر وي چه وروسته لدینه چه د نبات پورتني برخی یی په مکمل ډول وچی شي، حاصلات راټول شي خو د غوټو د ساتلو موده لنډه وي. ددی لپاره چه پخیدل یی چټک شي نو کیدی شي چه د یو رولر پواسطه یی پورتنی برخی هغه وخت هواري شي چه ۱۰ فیصده یی غورځیدلي وي. د وخکلو څخه اووه ورځی دمخه، کیدی شي چه ځینی غوټي پري شي. داسي پرې شوی غوټی باید د ډیرې مودی لپاره ذخیره نه شي. حاصل د لاس پواسطه ټولیږي چه پخي غوټی د ځمکي څخه راوښکل کیږي. بیلچی او ښاخي ددی مقصد لپاره هم استعمالیدې شي. خو پام باید وشی چه بوټي زخمي نه شي.

ټولی شوې غوټي په ځمکو کی د دوه یا دری ورځو لپاره ساتل کیږي مخکی لدینه چه د برابرولو لپاره انتقال شي.

### 17.5.2 د ذخیری لپاره تیارول

دا ځای باید ښه تهویه ولری او په نسبي ډول وچ وي. راټولی شوی غوټي هوا ته تر ۳-۴ اونیو پورې وچیږي تر څو چه غاړه یی نرمه شي او خارجي پوستکی یی وچ او سخت شي. کارکوونکی باید د قیچی څخه استفاده وکړی تر څو پورتنی برخي یی پرې کړي (د غوټو د ساقی د نهایت څخه ۱،۵-۲،۲ سانتي پوری فاصله). خارجي قشرونه یی باید ایسته نه شي. غوټي باید په طاقونو کی کینودل شي چه د محلی موادو څخه جوړ شوې وي او په داسي ځآی کی کینودل شي چه ښه تهویه ولری.

### 17.5.3 درجه بندي

د پیازو غوټي باید پاکی شي او د درملني څخه وروسته درجه بندي شي. ټول هغه غوټي چه خلاصي غاړې، یا تنګي غاړې ولری او یا زخمي شوې وي، باید مستردې شي.

### 17.5.4 بازار ته عرضه کول او پلورل

پیاز یا مستقیماً بازار ته انتقالیږي او یا هغو ځایو ته انتقالیږي چه هلته تنظمیږي. لری بازارونو ته د انتقال لپاره، پیاز په تاري بوجیو کی په لاریو کی انتقالیږي. کله چه بوجی ګانی باریږي په لاریو کی، پام باید وشي چه د بار لوړوالي ۵-۶ بوری وي. ډیر زیات بارول پیاز ژوبلوي. کیدی شي چه پیاز په محلی عمده خرڅوونکو باندې خرڅ شي. صادروونکی یی یا مستقیماً د پیازو د ذخیرو څخه اخلی او یا یی په بازار کی د عمده پلورنکو څخه اخلي. په منظمو مارکیټونو کی پیاز د بولی په توګه خرڅیږي. په نورو بازارونو کی خرڅلاو د دوه اړخیزه موافقي په اساس خرڅیږي چه کیدی شی چه خرڅوونکي او اخیستونکی ترمنځ په مستقیم ډول ترسره شي او یا د broker د لارې وي.

### 17.5.5 ذخیره

د حاصل د ټولولو څخه وروسته د پیازو غوټي د ۵-۶ میاشتو پورې ذخیره کیږي، چه د اوږدې مودې لپاره بازار ته عرضه کیدی شي. د پیازو غوټي باید پخي، وچي، درمل شوی، او د ژوبلو او ناروغیو څخه پاکي وي. داسي

ځای کی باید ذخیره شي چه رطوبت یی کم وي، د حرارت درجه یی ښکته او په مقایسوي ډول ثابته وي. د ذخیرې لپاره ډیر ښه حرارت صفر درجه د سانتی ګراد ده چه نسبي رطوبت ۶۰-۷۵ فیصدو پورې وي.